عبالباري جهاني

۲۰۲۱/۰۸/۳۰

# موسيقي په اسلامي متونو کي

د افغانستان د اسلامي امارت نطاق ذبيح الله مجاهد ، د پاکستان د جيو ټلوېزيون سره په مرکه کي، ويلي دي چي موسيقي په اسلام کي ناروا ده او اسلامي امارت موسيقى ته اجازه نه ورکوي. وروسته مي لا په خبرو کي دا هم واورېدل چي يوه طالب د کابل د شهرنو په سيمه کي يو ځوک په دې ګناه ويشتلی او وژلی دی چي موسيقي يې په زوره ږغول او د طالب امر ته يې اعتناء نه وه کړې. د وروستي خبر د دروغ او ريشتيا په باره کي زه ډېر څه نه سم ويلای خو د موسيقى د منع کولو او ناروا بللو په باره کي د اسلامي امارت د حکم سره ځکه خپل ښکاره مخالفت اعلانوم چي د هغوی حکم د قرآن شريف، چي بايد د ټولو اسلامي احکامو او نواهيو اساس وي، هيڅ ډول اړخ نه لګوي. په قرآن شريف کي هيڅ داسي آية نسته چي د موسيقى نوم قدر دي يې ذکر کړی وي. نو اسلامي امارت به په کوم اساس دا حکم کوي. که دا د پخوانيو علماوو حکم وي او په معتبرو کتابونو کي پرله پسي راغلی وي موږ ته ځکه د منلو وړ نه دی چي له حضرت رسول صلعم څخه پرته، چي حق متعال يې حکم خپل حکم بللی دی. و ما آتکم الرسول فخُذُوهُ و ما نهکم عنهُ فانتهوا و تقوالله ان الله شديد العقاب. آية ۵۹ سورة ۷

ترجمه: هغه څه چي رسول حکم درته کړی وي هغه واخلی او له هغه څه څخه چي يې منع کړی ياست پرهيز وکړی. له الله څخه وېرېږی. الله په عذاب ورکولو کي سختي کوي.

بل هيڅوک د هيڅ هغه عمل د ناروا بللو صلاحيت نه لري چي په قرآن شريف کي يې صريح او ځرګند حکم راغلی نه وي. دا چي مفسرينو، له خپلي خوښي او يا د نورو قديمو مفسرينو په پيروي موسيقي ناروا بللې ده. دانسته يا نا دانسته يې پر روا او مباح عمل باندي د حرام او ناروا حکم صادر کړی دی او دا پخپله ناروا عمل دی.

له لوستونکو او د اسلامي اِمارت له طرفدارانو او ليکوالانو څخه مي هيله دا ده چي زما او يا زما د مضون په باره کي سمدستي قضاوت ونه کړي. نه پر ما باندي سمدستي د کُفر او الحاد تور ولګوي او نه ما د اِسلامي‌امارت په مخالفينو کي وشمېري. دا يوه ديني موضوع ده او پر چا باندي سمدستي د حکم صادرول چنداني روا کار نه دی.

زموږ افغانانو، په تېره بيا ځوانانو، تر ټولو لويه نقيصه د کتاب او کتاب لوستلو څخه ليري والی دی. څه چي د دوی لپاره منل سويو مشرانو ورته وويل هغه صحيح بولي او د بل چا خبره نه مني. نن سبا چي قرآن شريف په څه کم ۱۲۰( ۱۱۴) ژبو ترجمه سوی دی او معتبر احاديث هم په هره ژبه موجود دي نو ضرور نه ده چي موږ د هر څه په باره کي حتما د ملاصاحب خبره ومنو؛ بلکه پخپله مو هم سواد د دې لپاره زده کړی دی چي هم ځانونه تنوير کړو، هم په ديني فرايضو او احکامو ، تر خپله وسه پوري، ځانونه خبر کړو او هم نورو ته لاربنودنه وکړو.

حرام هغه اعمال دي چي د منع کېدلو لپاره يې، د قرآن شريف پر آيتونو ولاړ، ځرګند شرعي احکام موجود وي. په يوه معتبر حديث کي راغلي دي: اذا نهيتکم من امراً فاجتنبوا و اذا امر تکم بامراً فاءتو منهه ماستطعتم.

ترجمه: کله چي مي د يوه کار څخه منع کړاست نو له هغه څخه پرهيز وکړی او که مي د يوه کار د کولو امر درته وکړ نو په عملي کولو کي يې خپل وس ته وګوری .د يوه مولوي صاحب څخه مي د يوه پوښتونکي په جواب کي واورېدل


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید: info@arianafghanistan.com

چې موسیقي د ټولو اجتماعي فسادونو مور ده او تر ټولو ستره ګناه ده. که دا خبره حقیقت ولري نو په ټول قرآن شریف کې د هرې کبیره ګناه نوم اخیستل سوی او په شریعت کې یې د مرتکبینو په سزا رسولو لپاره حدود ټاکل سوي دي خو حتی یو ځل هم نه د موسیقی نوم اخیستل سوی او نه اشاره ورته سوې ده. زموږ مولوي صاحبانو چې په دې باره کې هر څه سخت حکمونه کړي دي هغه یې د خپلو تعبیرونو او تفسیرونو په اساس کړي دي. څه موده مخکې مې په فیسبوک کې په یوه ویډیو کې له یوه بل مولوي صاحب څخه واورېدل چې ویل یې حضرت رسول صلعم فرمایلي دي چې زه د موسیقی د آلاتو د ماتولو لپاره مبعوث سوی یم. لومړی خو دا حدیث موجود نه دی او که موجود وي نو حتما به حدیث الضعیف یا حدیث الغریب وي چې چنداني اعتبار نه سي ورباندي کېدلای. بله خبره دا ده چې موږ په سیرت النبي کې هیڅ داسي حادثه نه ده لوستي چې حضرت رسول صلعم دي د خپل قدرت په زمانه کې په مدینه او یا کوم بل ښار کې د موسیقۍ کومه آله ماته کړې او یا یې ږغونکي ته سزا ورکړې وي. اوس نو که د بخاري او مسلم د متواتر او صحیح احادیثو په حواله، پخپله د انحضرت صلعم په زمانه کې، د هغه په خپل کور کې، د بي بي عایشې رض په مخ کې نجونې سندرې ویلای او تنبور او تولکه ږغولای سي او انحضرت صلعم په بشپړه حوصله غوږ ورته نیسي او ابوبکر رض او عمر رض د هنرمندانو له ترټلو څخه منع کوي نو بیا به زموږ علماوو ته د موسیقۍ هنرمندانو ته د سزا ورکولو او حتی وژلو اجازه چا ورکړې وي. وګورئ د صحیح مسلم له ۱۱۳۸ څخه تر ۱۱۴۶ پوري پرله پسې احادیث .

بي بي عایشه وایی یوه ورځ د هغې په کور کې دوو نجونو سندرې ویلې او بربت یې ږغاوه. ابوبکر رض راغی او ماته یې منت وکړ چې د پیغمبر په کور کې سازونه ږغوې. حضرت پیغمبر صلعم هغه منع کړ او ورته وې ویل چې پرېږده هر څوک خپل جشنونه لري دا د دوی د اختر جشن دی. مسلم ۱۱۴۰ لمبر حدیث.

زموږ له پیغمبر صلعم سره دونه وسعت نظر موجود وو چې عیسوي حبشیانو ته یې د مدینې په مسجد کې دننه د شمشیر بازۍ د لوبې کولو اجازه ورکوله. وګورئ د مسلم ۱۱۴۶ حدیث. مګر زموږ ځینې تنګ نظري او توندرو علماء نن د یوه بېګناه مسلمان هنر مند د قتلولو، چې د اسلام په دین کې تر ټولو ستره ګناه ده، او په آخرت کې یې سزا د شرک معادل ده. حکم ورکوي.

دا خبره باید په یاد ولرو چې په اسلام کې یوازې د قاتل سزا د مشرک سره معادله بلله سوې او په آخرت کې د دایمي دوږخ، چې یوازې د مشرکینو لپاره راغلی دی، او د خدای تعالی د غضب او لعنت وعده ورکړه سوې ده. آیت مبارک دی: ومن یقتُل مومناً متعمداً فجزآءُهٗ جهنم خالداً فیها و غضب الله علیه و لعنهُ و اعد لهُ عذاباً عظیما. سورة النساء

ترجمه: که چا مومن په قصد سره وواژه، د هغه جزاء په جهنم کې دایمي اوسېدل دي. د الله ج غضب او لعنت به ورباندي اوري او ستر عذاب ورته ګوري.

امام ابوحامد غزالي، چې د اسلام د سترو مرشدینو او عالمانو څخه دی، د خپل کتاب احیاءالعلوم الدین د دوهم ټوک په ۱۶۵ مخ کې د موسیقی په باره کې لیکي چې کوبا، مزامیر او تنبور له دې امله ناروا نه دي چې خواږه آوازونه لري بلکه له دې امله ناروا دي چې د موسیقی دغه آلات د شرابو او رقص د مجلسونو سره تړلي ول. د شپونکیانو تولکه او ډول دواړه خواږه آوازونه لري؛ ځرنګه چې د شرابو له مجلسونو سره اړه نه لري نو روا دي. دهماغه کتاب په ۱۷۱ مخ کې د یوه حدیث په حواله لیکي چې «د آس له سورلی، د غشیو له ویشتلو او د مېرمني سره د لوبو کولو پرته نوري ټولي لوبي لهو او لعب دی. نو د دې معنی دا نه ده چې له دغو دریو یادو سویو لوبو څخه پرته نوري لوبي ناروا دي. د مرغانو د آوازونو اورېدل او داسي لوبي چې بل چا ته یې آزار نه رسېږي حرامي نه دي«

د امام غزالي ورور محمد غزالي، چې په مجدالدین طوسي مشهور وو، او د امام غزالي له وفات څخه وروسته د دمشق د مدرسي رییس سو، د موسیقی په برخه کې یو څه مخته ځي او وایي هر هغه څوک چې وایی موسیقي مطلق حرامه ده نو داسي شی یې حرام بللی دی چې د هغه د حرام والي په باره کې موږ ته هیڅ حکم نه دی راغلی. نو ځرنګه چې د موسیقي او رقص د حرامېدلو په باب نه په قرآن شریف او نه په احادیثو کې حکم موجود دی نو هر هغه څوک چې داسي شیان حرام اعلانوي چې د خدای او رسول په کتابونو کې موجود نه وي هغه پر الله ج باندي بهتان وایي او پر الله ج باندي بهتان ویل کفر دی A History of Muslim Philosophy P ۱۱۲۸.

شیخ شهاب الدین سهروردي د خپل مشهور کتاب عوارف المعارف په یو نیوي یم مخ کي لیکي« امامان د موسیقی پر حرام او حلال اختلاف سره لري. ځیني وایي چي موسیقی فسق دی او باید چي پرهیز ورڅخه وسي او ځیني یي د حق لاره بولي. د حسن ابن سالم څخه یي پوښتنه وکړه چي د موسیقی په باب څه وایي؟ هغه ورته وویل چي جنید بغدادي، سري سقطي او ذوالنون مصري، چي تر ما بهتر ول هغوی تولو موسیقي اوریده نو زه به څرنګه انکار ورڅخه کوم» د همدې کتاب په څلور نیوي یم مخ کي لیکي« که سندري او د موسیقي ږغونه روا نه وای نو حضرت رسول صلعم به منع کړي وای. دا څه غفلت دی چي پر دي منکرانو حاکم سوی دی او دا څه توري وریځي دي چي له دوی څخه یي د حقیقت د لمر مخ پټ کړی او دوی یي له لیدلو محروم کړي دي»

علي بن عثمان الهجویري موسیقي د روح غذا بولي او د خپل مشهور کتاب کشف المحجوب په پنځه سوه دیرشم مخ کي لیکي چي موسیقي د لمر په څېر ده او کله چي لمر پر اسمان باندي را وخېژي نو ځوک وسوځي، ځوک روښانه کړي، ځوک ونازوي او ځوک آزار کړي. موسیقي هم دغه راز د هر چا پر زړه باندي بېل تاثیر کوي. علي بن عثمان هجویري نه یوازي موسیقي ناروا نه بولي بلکه د انسانانو لپاره یي لازمه بولي.مولنا جلال الدین بلخي یا مولنای روم، چي علمي او عرفاني شخصیت یي د لمر په څېر څرګند دی، په دي برخه کي دونه مخته ولاړ چي د خپل مرید او شاګرد صلاح الدین زرکوب جنازه یي، د هغه له وصیت سره سم، په رقص او موسیقی تر هدیرې پوري یوړه. او هلته یي د خپل پلار سلطان العلماء بهاء ولد څنګ ته ښخ کړ. سیر عرفان در اسلام ۳۳۵ مخاو د پښتو شعر پاچا رحمان بابا خو وایی:

هر مطرب چي غوری تاو کا د رباب
په دا تاو کي زما زړه کاندي خراب
چي سامع یي په نغمه په ترانه شم
دیوانه شم کریوان ځیري مست خراب
هم یي تار هم یي ګفتار هسي اثر کا
چي هیڅوک یي طاقت نه لري نه تاب
یو یي ساز بل یي آواز دی دلښتیو
دریم شعر پری آغاز کا انتخاب
څلورم یي یو ساقي د څنګه ناست وي
چي مخ یي نه آفتاب وی نه مهتاب
دا څلور واړه فتني په څلور کنجه
او پنځم یي صراحي د می ناب
شپږم وخت د نوبهار اووم ځواني وي
اتم شغل د کتاب نهم رباب
چي دا واړه آفتونه سره تول شي
ترو څوک څرنګ ترینه کاندي اجتناب
چي دا هسي دلبران پري اثر نه کا
یا به دیو وي یا دیوال وي یا دواب
راڅرګند به شي پرهیز د پرهیزګارو
که قادر شي په شاهد او په شراب
زه رحمان د ریا زهده امان غواړم
د ریا زهد عذاب دی هم عتاب

د موسیقي د روا بللو په برخه کي دومره دلایل او نقل قولونه موجود دي چي ډیري زیاتي پاني ورباندی لیکل کیدلای سي. د هغو کسانو نقل قولونه چي ما دلته راوړي دي عادی خلک نه دي بلکه د اسلام تول احکام ورته معلوم ول او په دین او مذهب کي داسي کتاب نه وو چي دوی پرله اړولی نه وو او د مهمو مدرسو او د اسلام د جیدو عالمانو د لیدلو

لپاره يې په مياشتو مزلونه کړي ول. سړی نه پوهېږي چې که دا ستر علماءو چې مثالونه او کتابونه يې سل هاوو ته رسېږي، نه پوهېدل نو دا زموږ د مولويانو سره دا علم او تعصب له کومه سو چې بالاخره يې د حق متعال د ټولو احکامو په خلاف، په فرض روژه، لاسونه د يوه بېګناه مظلوم په وينو سره کړل او د قرآن کريم د حکم سره سم يې ځانونو ته ابدي دوږخ او د خدای لعنت واخيست.

يوه ځوان ويل چې موسيقي د قرآن کريم د سوره لقمان د شپږم آيت په حکم( د ابن کثير د تفسير په اساس) حرامه ده. زما سره د ابن کثير تفسير نسته خو د تفسير کابلي، تفسير يوسف علي او د سعودي عربستان ټول تفسيرونه تقريبا يو شان حکمونه لري او د هغوی د احکامو څخه، که څه هم چې د قرآن کريم د مبارک آيه د ترجمي څخه يو څه زياتی هم پکښې سوی دی، داسي نه ښکاري چې موسيقي دي حرامه وي:

و من الّناس من يشتري لهوالحديث ليضل عن سبيل الله بغير علم و يتّخذها هُزوًا أُولآءک لهم عذاب مهين. ترجمه: او هغه کسان چې چټي خبري په بيه اخلي څو نورکسان د حق تعالی له لاري څخه بې لاري کړي او د خدای پر لاري باندي ټوکي کوي؛ دې ډلي ته سخت( توهينوونکی) عذاب ګوري .

تفسيرکابلي: « دا د نيک بختانو په مقابل کي د هغو بدبختانو ذکر دی چې د جهالت او نادانی په وجه يې قرآن کريم ترک وهلی او په رقص و سرود، لهو لعب او نورو خرافاتو کي غرق دي او غواړي چې نور کسان هم له لاري واړوي او د دين پر خبرو باندي ريشخندونه وهي .

حضرت حسن رض ويلي دي جي لهوالحديث هغه دی چې سړی د خدای له عبادت څخه را ګرځوي لکه ټوکي ټکالي او د چا مسخره کول، چټي کارونه کول او ساز و سرود او دغه راز نور. په رواياتو کي راغلي دي چې نضر بن حارث چې د کفارو له مشرانو څخه وو فارس ته په تجارت تلی او له هغه ځايه به يې له ځان سره د عجم د شاهانو کيسي راوړلي او قريشو ته به يې ويل چې محمد ص تاسي ته د عاد و ثمود کيسي کوي راسی چې زه د رستم و اسفنديار او د ايران د شاهانو کيسي درته بيان کړم. ځينو کسانو به د هغه له کيسو سره علاقه ښودله. دغه راز يې يوه سندرغاړې کنيزه هم درلوده چې هر څوک به يې وليدی چې زړه به يې نرم سوی او اسلام ته مايل سوی وو نو هغه کنيزه به يې ور مخته کړه څو دی په ساز او آواز مشغول کړي او بيا به يې هغه شخص ته وويل چې وګوره دا بهتره ده او که د محمدص خبري چې وايی لمونځ وکړی، روژې ونيسی او زحمتونه وګالی. ځکه نو دغه آيات نازل سول .

تنبيه: که څه هم چې يو آيت به د يوې خاصي پېښي په اړه نازل سوی وي، مګر څرنګه چې الفاظ يې عام دي نو حکم يې عام دی. هغه لهو چې د هغه په اساس سړی د اسلام له دين څخه ګرځي حرامه بلکه کفر دی. او هغه شيان چې سړی د اسلام د ضروري شرعي احکامو له اجراء کولو څخه را ګرځوي او يا د ګناه سبب وګرځي هغه پخپله ګناه ده. بلي هغه لهو چې د کوم واجب امر د قضا کيدلو سبب ونه ګرځي او يا په هغه کي کوم غرض او شرعي مصلحت موجود نه وي هغه مباح دی؛ مګر څرنګه چې چټي او بيهوده دی نو له هغه څخه ليري والی ښه دی» تفسير کابلي جلد پنجم ص ۴۷

د يوسف علي تفسير دا موضوع په تقريبا عين شکل خو يو څه مختصره اخيستي ده او د سعودي عربستان تفسير ټکي په ټکي د تفسير کابلي متن را اخيستی دی .

که څه هم چې په ذکر سوي آيت مبارک کي د موسيقی ذکر نسته او په عمومي صورت لهولعب ته اشاره سوې ده، او هغه هم هغه لهولعب ته چې څوک په قصدي توګه خپل د خدای له لاري اړوي او هغه لهولعب هم، لکه څرنګه چې د تفسير کابلي د تنبيه په برخه کي يې وينو، مطلق حرام نه دی بلل سوی او بې غرضه لهو مباح بلل سوې ده. دا آيت مبارک، چې د هجرت څخه مخکي، يعني په مکه معظمه کي نازل سوی دی، په مشخصه توګه د نضر بن حارث په حق کي راغلی دی، چې ټوله کيسه يې ذکر سوه.

لومړی خو که موسيقي په مطلقه توګه حرامه وای نو حق تعالی ج هغې ته په قرآن کريم کې، د زنا، شرابو، قمار او نورو نواهيو په څېر اشاره کوله؛ او که موسيقي د لهولعب په کتار کې راولو بيا خو د معتبرو تفاسيرو په حکم، چې پورته مو يادونه وکړه، ټول لهو حرام نه بلکه مباح دي. ځکه چې که ټول لهو حرام وبولو په هغه صورت کې د قنری آواز ته غوږ نيول، د الف ليله و ليله د نکلونو اورېدل، د ملګرو سره مېلې ته تلل او لامبو کول او دغه راز ټول سپورټونه او کارونه ناروا او حرام دي .

او چې تر ټولو خبرو را تېر سو نو په اسلام کې هيڅ عالم او مجتهد د قرآن شريف د اوامرو او نواهيو په خلاف د حکم کولو صلاحيت نه لري. اسماعيل بن عمر کثير، خپل تفسيرالقرآن العظيم په نهو جلدو کې په اتمه هجري پېړۍ کې ترتيب کړی دی. لومړی خو هغه موسيقي حرامه نه ده بللې او که يې حرامه بللې وي نو له هغه سره، د بل هيڅ عالم، مجتهد او فقيه په څېر دا صلاحيت نسته چې هغه څه ته حرام ووايي چې حق تعالی ج په خپل کتاب کې اشاره هم ورته کړې نه وي.

ابن جوزي، چې حنبلي مذهبه شيخ تېر سوی دی، له موسيقی سره، د خپلو اسلافو او معاصرو ديني علماوو په څېر، ډېر سخت مخالف دی او وايي چې موسيقي په قرآن کريم کې ناروا بلله سوې ده. په دې کې شک نسته چې ابن جوزي ډېر ستر عالم وو مګر د هغه په شمول له هيچا سره داصلاحيت نسته چې، په خپل حکم، د روا او ناروا فتوی ورکړي. ابن جوزي د موسيقي د تحريم په برخه کې په دريو آيتونو استناد کوي خو له بده مرغه چې دی هم د آيتونو د ترجمه کولو پر ځای د هغوی د مفسرينو په تفسيرونو او استدلال استناد کوي. لومړی آية( و من الناس من يشتری لهو الحديث) چې معنی يې ځيني هغه کسان چې چټي خبري را نيسي. يا چټي خبرو ته غوږ نيسي. خو اين جوزي وايي « ابن مسعود ويلي دي چې په خدای مي دي قسم وي چې له لهو څخه مطلب موسيقي ده. دغه راز ابن عباس، مجاهد، عکرمه، حسن بصري، سعيد جبير او ابراهيم نخعي هم په دغه عقيده دی» د ابن جوزي په څېر يوه لوی عالم بايد، د حکم د صادرولو لپاره صريح آية راوړی او يا يي خپل استدلال وړاندي کړی وای؛ خو دی په عوض کې د ابن مسعود په سوګند استناد او اکتفاء کوي. آيا دا د منلو وړ ده؟

دو هم آية: و انتم سامدون. يعني تاسي تل په غفلت کې ژوند کوی. ابن جوزي وايي «له ابن عباس څخه نقل سوی دی چې په حُميري ژبه کې سمدلنا يعني غِنا لنا يا موږ ته موسيقي. او مجاهد وايي چې يقول اهل يمن سمد فلا يعني کله چې سندره يي وويله«.

اوس به نو د دې لويانو په ترجمه او تفسير کې سرې څه وايي؟ قرآن شريف په عربي ژبه نازل سوی دی او په هغه کې د حُميري او يمني ژبې په اساس تعبير ته څه ضرورت دی؟ په قرآن شريف کې په دې اړه درې ځلور ځايه صراحت سوی دی چې قرآن په عربي ژبه نازل سوی دی: انّا انزلنا قرآن عربياً لعلکم تعقلون. يعني موږ قرآن په عربي ژبه نازل کړی دی څو تاسي له هغه څخه عقل زده کړی. په دې صورت کې به سړی د يوه آية د ترجمه کولو او ځان پوهولو لپاره، چې په عربي ژبه نازل سوی وي، څرنګه او ولي بلې ژبې ته مراجعه کوي؟

دريم آية: واستفرز من استطعت بصوتک. چې مجاهد په دغه آية مبارک کې د شيطان ږغ په ساز او آواز تعبير کړی دی. ابن جوزي تلبيس ابليس ص ص ۲۴۶-۴۷

بشپړ آية: و استفرز من استطعت منهم بصوتک و اجلب عليهم بخيلک و رجِلِک و شارکهم فی الاموال والاولاد و عِدهُم و ما يعدُهُم الشيطن الّا غروراً . سورة ۱۷ آية ۶۴

ترجمه: او هغه کسان چې ته يې کولای سې يا ستا په وس پوره وي په خپل آواز سره را پورته کړه او پر هغوی باندي په خپلو سپرو او پياده لښکرو حمله وکړه. له هغوی سره په اولاد او مال شريک سه او هغوی ته وعدې ورکړه مګر شيطان هغوی ته پرته له تېر ايستلو د هيڅ شي وعده نه سي ورکولای. ترجمه د يوسف علي له انګليسي څخه.

که په دې آية او نورو ذکر سويو آيتونو کې د حق متعال ج مطلب موسيقي او يا د موسيقي آلات وای نو ولي يي موسيقي په نوم نه يادوله. څرګنده خبره ده چې د حق متعال مطلب موسيقي نه وه او وروستی آية بالکل د شيطان لپاره نازل سوی


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com

دی او حق متعال ج هغه ته اختيار ورکوي چي د ده د بنده ګانو د تېر ايستلو لپاره چي يي هر څه په وس پوره وي هغه دي وکړي. ځکه چي حق متعال ج د قرآن شريف په ډېرو زياتو آيتونو کي ويلي دي چي چاته سمه لاره وښيي هغوی څوک نه سي ګمراه کولای او چي څوک ګمراه کړي نو هغوی بيا هيڅوک لاري ته نه سي راوستلای.



برای مطالب ديگر عبالباري جهاني روی عکس کليک کنيد